# د افغانستان اسلامي امارت

# وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه

# کمپیوټر ساینس پوهنځي

# د ستراتیژیک پلان کمېټه

# د کمپیوټر ساینس پوهنځی پنځه کلن ستراتیژیک پلان

# (۱۴۰۳- ۱۴۰۷ هـ ش)

**ترتیب کوونکي:** د کمپیوټرساینس پوهنځی د ستراتیژیک پلان کمېټه

**تصدیق کوونکی:** د کمپیوټر ساینس پوهنځی علمي شورا

**نهایي کوونکی:** وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې علمي شورا

بسم الله الرحمن الرحيم

# د مطالبو فهرست

**عنوان** **صفحه**


۱,۱ کمپیوټرساینس پوهنځۍ رئیس پیغام ........ ۱

۲,۱ سریزه ........ ۳

۳,۱ تاریخچه ........ ۳
۴,۱ پیژندنه ........ ٦
۵,۱ لید لوری ........ ۹

٦,۱ رسالت ........ ۹

۷,۱ ارزښتونه ........ ۹

۸,۱ د پوهنځی موخې او اهداف ........ ۹

(SWOT)۹,۱ تحلیل ........ ۱۰

قوت (Strength) ........ ۱۰

ضعف (Weakness) ........ ۱۰

فرصتونه (Opportunities) ........ ۱۰

گواښونه (Threats) ........ ۱۰

**۱,۲علمي او اکاډمیک پروگرامونه**

۲,۲په علمي کادر کې وړ او مسلکې استادانو ته پراختیا ورکول ........ ۱٦

۳,۲د علمي کادر غړو ظرفیت لوړول ........ ۱٦

۴,۲علمي خېړنه او پلان جوړونه ........ ۱۷

۵,۲د نصاب پراختیا ........ ۱۸

٦,۲ د کیفیت لوړاوی او اعتبار ورکول ........ ۱۸

۷,۲د ښوونیز موادو چمتو کول ........ ۱۹

۸,۲د برېښنايي زده کړو پروگرامونه ........ ۲۰

۹,۲معلوماتي ټیکنالوژۍ ته لاسرسی ........ ۲۰

**۱,۳ لوړو زده کړو ته لاسرسی**

۲,۳ لوړو زده کړو ته پراخه لاسرسی ........ ۲۱

۳,۳د کربډت سیستم تطبیق کیږي......................................................................۲۲
۴,۳د زده کړیالانو لپاره د خدماتو او اسانتیاوو پیاوړتیا..........................................................۲۲
۱,۴ د کمپیوټر ساینس پوهنځي ستراتیژیک موقیعت
۲,۴ د کمپیوټر ساینس پوهنځي ستراتیژیک حالت..........................................................۲۵
۳,۴ د کمپیوټر ساینس پوهنځي ستراتیژي ګانې..........................................................۲۵
۱,۵ حکومتولي
۲,۵د رهبری، پروګرامونه..........................................................۲٦
۳,۵د فساد پر ضد مبارزه..........................................................۲٦
۴,۵اداری بوروکراسي..........................................................۲۷
۵,۵د عملیاتي پلان تائیدول..........................................................۲۷
٦,۵د څارنې او ارزونې پیاوړي کول..........................................................۲۸
۷,۵توامیتونو پراختیا..........................................................۲۸
۸,۵د مرستو جذبول..........................................................۲۹
۹,۵د جندر مسایل..........................................................۲۹
۱۰,۵دعمده ستراتیژیکو موخولاسته راوړلولپاره اټکل شوی پلان..........................................................۳۰
۱۱,۵ زیربیناوې..........................................................۳۱
۱۲,۵د کلیدی کړنو د شاخصونو په نظر کې نیولو سره د څانګې ستراتیژیک اهداف او موخې..........................................................۳۱
۱۳,۵ خطرات..........................................................۳۲
۱۴,۵د چاپیریال اغیزی..........................................................۳۲
۱۵,۵پایله..........................................................۳۲

# ۱. لومړی څپرکی



## ۱,۱ د کمپیوټرساینس پوهنځی د رئیس پیغام

کمپیوټرساینس پوهنځی د افغانستان اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزارت د قوانینو په چوکاټ کې خپل علمي او اکاډمیک فعالیت کوي ، چې تر ټولو مهم او اساسي رسالت یې د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې په لوړ کیفیت ، متوازنه او عادلانه توګه سره په علمي، تخنیکي او مسلکي برخو کې د استعدادونو تشخیص، روزل ، ارزول او د هغوی د علمي او مسلکي وړتیاوو لوړول بلل کیږي.


د زده کړو حاصلول نه دا چې یوه اسلامي وجیبه ،بلکې یوه ملي اړتیا او په سیمییزه او نړیواله کچه د سیالۍ اوسیال دارۍ یواځینۍ لار ده ، نو د لوړو زده کړو په حاصلولو او ترلاسه کولو کې زموږ مسؤلیت فردي نه بلکې ټولنیز دی ، او د دې مسؤلیت د حق اداینې په پار باید پلرونه ، میندې او د ټولنې هر وګړی خپل مسؤلیت په پوره امانت دارۍ سره ادأ کړي ، ترڅو افغاني ټولنه د یو باثباته او سولییز پرمختګ لور ته سوق او وخوځیږي.

پوهنیار سیدرحیم نېکمل

د کمپیوټر ساینس پوهنځی رئیس

## د کمپیوټر ساینس پوهنځی د ستراتیژیک پلان چارچوب

**د وړاندیز لومړنی ماډل**



## ۲,۱ سریزه

دا چې هره اداره ځانګړي اهداف لري، د یادو اهداف د ترلاسه کولو لپاره باید یوه منظمه سیستماټیکه لاره په کار واچول شي ترڅو تاکل شوي اهداف په منظم ډول سره تر لاسه شي، چې دغه منظمه او سیستماټیکه لاره د پلان په نوم سره یادیږي. کله چې پلان په داسې ډول سره ترتیب شي چې د یوې ادارې ټول اهداف په ځان کې راونغاړي د ستراتیژی یا د ستراتیژیک پلان په نامه سره یادیږي. هره اداره چې ستراتیژیک پلان په منظم ډول سره ترتیب کړي هغه اداره به ټاکل شوي اهداف په ټاکلي وخت،کم لګښت او ښه ډول سره ترلاسه کړي. نو ځکه د ستراتیژیک پلان ټاکل تر ټولو مهم فعالیت بلل کیږي.  د اهدافو ټاکل، تر لاسه کول، په کم مصرف او لږ وخت دا ټول هغه څه دي چې موږ دې ته اړباسي تر څو د ادارې لپاره په ښه ډول سره ستراتیژیک پلان ترتیب او عملي کړو، له یادو څرګندونو څخه دا معلومیږي چې د ستراتژیک پلان ترتیب کول د یوې ادارې لپاره له لومړنیو اړتیاوو څخه دي.

د وردګ پوهنتون د کمپیوټر ساینس پوهنځی هم هڅه کړې چې ستراتیژیک پلان له اصولو سره سم ترتیب کړي چې په یاد پلان کې د پوهنځی لنډه پېژندنه ، لرلید ، رسالت او ارزښتونو ترڅنګ په بعضو نورو مواردو باندې هم بحث شوی دي.


## ۳,۱  د کمپیوټر ساینس پوهنځی تاریخچه

د کمپیوټر ساینس پوهنځی په ۱۴۰۰هـ ش کال د لوړو زده کړو وزارت له خوا  د وردګ  پوهنتون په وړاندیز سره منظور شوه او د یاد پوهنتون په داخل کې یې په خپلو علمي او اکاډمیکو فعالیتونه پیل وکړ. یاد پوهنځی که له یوې خوا نوی وه له بلې خوا یې استادان نه یوازې نوي ، بلکې لږ هم وو. د دې تر څنګ امکانات یې ډیر لږ او د اداري او علمي فعالیتونو سره د نوو استادانو نابلدتیا هغه ستونزې وې چې د پوهنځی مسئولین ورسره مخامخ وو.  خو بیا هم د دې پوهنځی د ځوانو استادانو قوي عزم او د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژی  په ساحه کې د هیواد د ځوان نسل د روزنې سره قوي تعهد هغه څه وو چې دغو ټولو ستونزو ته یې اوبه ورکړه او په پوره باور او قوي اراده یې د اداري او اکاډ میکو فعالیتونو د ترسره کولو لپاره شپه او ورځ یوه کړه او د پوهنتون د رهبری په ځانګړې پاملرنه او همکاری یې د پوهنځی کالبوت ته ساه ورکړه، نن یې دا دی د دې پوهنتون د سابقه لرونکی پوهنځیو په کتار کې ځان ثابت کړی او په پوره آمادګی فعالیت لري. اوس مهال د کمپیوټر سانیس پوهنځی دوې څانګې لري: یوه معلوماتي سیستم  څانګه او بله یې د انجنیري شبکې څانګه ده د  څانګو له پاره آمرین ټاکل شوي او په نورمال ډول  خپلې چارې پرمخ وړي د ۱۴۰۱هـ ش کال د کانکور په آزموینه کې ۱۲۴ تنه محصلان د ۱۴۰۲ هـ ش کال د کانکور په آزموینه کې ۱۴۲ تنه محصلان او د ۱۴۰۳ هـ ش کال د کانکور په آزموینه کې ۸۹ محصلان تردې دمه د هیواد له بیلو بیلو ولایتونو څخه  د کانکور آزموینې له لارې یاد پوهنځی ته کامیاب شوي دي. د کمپیوټر ساینس  پوهنځی ۳۵۵ تنه محصلین لري . یاد پوهنځی د استادانو شمېر اوس مهال (۵) تنو ته رسیږي چې د پوهنځی ټولې علمي او اکاډمیکې چارې تنظیموي . د پوهنځی ډیرې ستونزې هوارې شوې دي. د استادانو تعداد زیات شوی او څانګې پرانیستل شوې دي.

**۱ شمیره جدول: د کمپیوټر ساینس پوهنځی د استادانو احصائیه**


| شمیره | دیپارتمنت | علمي رتبه | | | | | | علمي درجه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | ن پوهنیار | پوهنیار | پوهنمل | پوهندوی | پوهنوال | پوهاند | لیسانس | ماستر | دوکتور |
| ۱ | معلوماتي سیستم | ۳ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۳ | ۰ | ۰ |
| ۲ | انجنیري شبکه | ۲ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۲ | ۰ | ۰ |
| | | | | | | | | د تحصیلي دورې په جریان کې | | |
| | | | | | | | | | ۱ | ۰ |
| مجموع | | | | | | | | ۵ | | |

د کمپیوټر ساینس پوهنځي (۲۰)سلنه استادان په ماسترۍ کې د هیواد د ننه په زده کړو بوخت دي او متباقي (۸۰)سلنه استادان حضور لري چې د تدریس تر څنګ د نورو اداري کارونو مسؤولیت هم په غاړه لري. په لاندې دیاګرام کې ښودل شوي دي.





۱ شمیره دیاګرام: د کمپیوټر ساینس پوهنځی د حضوري او تحصیلي درجې په تفکیک سره د استادانو احصائیه.

د کمپیوټر ساینس پوهنځی د اکاډمیک تشکیل تر څنګ په خپل جوړښت کې (۴) غیر اکاډمیک خدماتي او اداري بستونه لري چې په دوهمه شماره دیاګرام کې په مکمل ډول سره ښودل شوي دي.




۲ شمیره دیاګرام: د کمپیوټر ساینس  پوهنځي د اداري بستونو تشکیل.

د کمپیوټر ساینس پوهنځی تشکیلاتي جدول



## ۴,۱ پيژندنه

داچي اوس مهال د معلوماتي ټکنالوژۍ عصر دی او د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژۍ په مټ ټوله نړۍ په يوه کوچني کلي بدله شويده، همدارنگه کمپيوټرساينس دتاريخ په اوږدوکی بيلا بيل پړاوونه تير کړي دي. په معاصر وخت کې کمپيوټرساينس او معلوماتي ټکنالوژۍ ته ډير اوچت ارزښت ورکول کيږي چی دعامه خدماتو عرضه او ورځنی چاري برښنائي کول او اتومات کول يوه اړينه دنده ده. معلوماتي ټکنالوژي د بشري قوي چاري چټکي کوي. کمپيوټرساينس نن ورځ داجرايي بني څخه پرته ديوعلم په توگه هم مطرح دی. د معلوماتي ټکنالوژۍ پر مټ علمی څيړني اواکاډميکي هڅي چټکي شويدي او په اړونده چارو کې ډير مؤثريت او سهولت رامينځ ته شويدی، ادارات دنوي مديريت د طرزپه مرسته له پخواني شکل څخه را ايستلي او د يوه علمی مديريت بڼه يی ورکړي ده. د کمپيوټرساينس پوهنځی لپاره روزل شويو دعامه سکتور کارکوونکواومديرانوته اړتياده. دغه اړتيا د پوهنتون اوعلمی مرکزله خوا بشپړکيدای شي. له همدی امله نن ورځ کمپيوټرساينس د اکاډميک دسپلين په توگه مطرح دی. دهغی دمؤثريت درجه په اداري اجرأتوکې دسنجش معيارونه شتون لري. په دغه ټوله پروسه کی گڼ شميرپوهانواوڅيړونکو هلی- ځلی کړي او د نن ورځې پرمختللی اوعلمی تحقيقات يی دبشپړوالي لوړو درجو ته رسولي دي. دولتونه غواړي چی د استحکام، اغيزمنتوب، اصولی والي اومسلکی توب په خا طر د کمپيوټرساينس علمی اړخ پياوړی کړي، نوځکه دهمدي موخي لپاره دڅيړنو مراکز اوپه پوهنتونوکې اکاډميک واحدونه تشکيل شوي دي. دادی په افغانستان کې هم په ډيرو دولتي او خصوصي پوهنتونو کې د کمپيوټرساينس پوهنځی تاسيس شوي دي، چی بايد مسلکی متخصص کادرونه وروزي.

نن ورځ ملی دولتونه داتباعو د غوښتنو او د هغوی د رضايت دحاصلولو مسؤليت لري. دعامه ملکی خدماتو بهبود د نن ورځې بشري ستره تقاضا ده. علمي څيړنوښودلي چی ددولت کارکوونکي هغه وخت په خپلوچاروکی بريالي اوگرندي دي چی په علمی توگه دعلمي اداري پرمخ بيولو لپاره مجهز وي. اوس مهال د پخوانی اداري سيستم ځای نوي او پرمختللي سيستم چي د معلوماتي ټکنالوژۍ پرمټ ولاړ کمپيوټري سيستمونه دي، هغوی نيولی دی، په همدی خاطر دولتونو دمدبرو، آبرومندو، دلوړپرستيژ لرونکو اود غوره مثمريت لرو نکوسراسري پياوړو مؤسسو په توگه تبارز موندلی دی، چی اتباع يی نه يواځې ورڅخه رضايت لري، بلکی ديوه سازماندهی شوي ارگانيزم په توگه متحده ټولنه جوړوي. دهمدی اهميت له مخی دمسلکی متخصصينو د روزنی لپاره دکمپيوټرساينس دپوهنځيوايجادول احساس او دادی دغه پوهنځی تاسيس شول. په دغه مقاله کی دکمپيوټر ساينس اهميت او د هغي راتلونکې رو ښانه شوي ده. دا چي د کمپيوټر ساينس پوهنځی څوانه پوهنځی ده او په آينده کی به د معلوماتي سيستمونو او انجنيری شبکې ځانگو کی ټولني ته د خدمت په موخه فارغان وړاندي کړي.

یاده پوهنځی له کیفي پلوه مشـــبوع ده خو له کمي پلوه نورو علمي کادرونو ته هم اړتیا لري، د یادولو وړ ده چي  اوس مهال په  دغه پوهنځی کی رسماً ( ۵ ) دعلمی کادر غړی شتون لري، عملاً تنظیم شوی درسی نصاب لري، دفتری لوازم، فرنیچر، د دفتر ددوسیو سیستم، لرلید ماموریت یی چمتو شوی دی، استادان د پوهنځی او پوهنتون په مهمو کمیټو کې غړیتوب لري .

په وردګ لوړو زده کړو مؤسسې کمپیوټرساینس پوهنځي کې دکریډیټ سیستم پیل دی، او د پوهنځی د ځوانو علمی کادر غړو او اداری پرسونل هلي ځلي په نه ســتومانه کیدونکي توګه  رواني دي او چاري  یي لا زیاتي  ســمبالیږي.  ددي مقصــد لپاره د یوی  ســتراتیژیک پلان یا برنامی موجودیت ته اړتیا ده، څرنګه چي ستراتیژي باید د پوهنتون، د پوهنځی، او یا حد اقل څانګې په سطحه جوړه شي او هره پوهنځی باید یو ځانګری پلان ولري د کیفیت لوړاوي کمېټه د تأکید او تو صیي په اړه په همدی منظور  دپوهنځی علمی  شورا و پتییله چی  یو  ستراتیژیک پلان د لارښـود سند په توګه تدوین او وروسته د هغي مطابق اجراات پرمخ یوړل شي.

**لاسته راوړنې:**

۱. په عصري ټکنالوژۍ مجهز صنفونه.

۲. برحاله لس کمېټې د پوهنځي په چوکات کې.

۳. د تدریسي او اجرائیه مدیریتونه.

۴. د کارونو په وخت سره ترسره کول.

۵. د معلوماتي سیستم څانګې لپاره د مجهز کمپیوټر لب شتون.

**د کمپیوټر ساینس پوهنځي په کچه په علمي او اداري برخو کې موجوده ستونزې:**

لومړۍ برخه: تشکیلاتي او پراختیا

۱ . د انجنیري شبکې څانګې لپاره د مجهز لابراتوار او لابرانت نشتون.

۲. تشکیلاتي کمبود.

۳. مجازاتو او مکافاتو ته کمه توجه کول.

۴. په ځینو برخو کې د منظمو پالیسیو نشتون.

دوهمه برخه: تجهیزات

۱. د معیاري کتابتون او په کتابتون کې د معیاري کتابونو نشتون.

۲. په لازمو او عصري وسایلو او تجهیزاتو د معیاري ټولګیو نشتوالی.

دریمه برخه: تاسیسات او زیربناء

د کمپیوټر ساینس پوهنځي د تاسیساتو او زیربناء په برخه کې یوه اندازه ستونزې او مشکلات لري:

۱ . د استادانو او اداري کارمندانو لپاره د منظم استوګنځي نشتون.

۲. د نقلیه وسایلو لپاره د منظم پارکینګ نشتون.

۳. د یوه منظم خوړنځای نشتون.

۴. په کافي اندازه د کاري دفترونو او درسي خونو نشتون.

۵. د انټرنیت په اړونده برخه کې د مشکلاتو شتون.

٦. د غونډو لپاره د معیاري تالار نشتون.

۷. د کتابتون د ودانۍ نشتون.

۸. دلیلیې د ودانۍ نشتون.

## ۵,۱ لید لوری(Vision)

د کمپیوټر ساینس پوهنځی خپله راتلونکې داسې اټکلوي چی په اکاډمیک ډول به د هیواد،سیمې او نړی په کچه یو د باور وړ پوهنځی په توګه واوسې، په ملي او نړیواله کچه د ټیکنالوجی علومو اړوند برخو کی به مسلکي متخصصین او په کارپوه کادرونه هیواد ، سیمې او نړی ته د چوپړ په موخه چمتو کړي .

## ٦,۱ رسالت(Mission)

کمپیوټر سایــــــنس پوهنځی د معیاري تحصیلي نصاب، مسلکي کادري غړو، معاصرو ټکنالوژيکي وسایلو او مناسب علمي چاپېريال په درلودلو سره د هیواد ټولو نافذه قوانینو ته ژمن مسلکي او په کارپوه کادرونه ټولنې ته وړاندې کړي.

## ۷,۱ ارزښتونه ( Values)

۱- د اسلام او هیواد ټولو نافذه قوانین رعایت کول.

۲- د هیواد اوسیدوونکو ته د ټکنالوژی په مرسته سهولتونه رامنځ ته کول.

۳- نظام او اسلامي ټولنې ته د کمپیوټري او ټکنالوژيکي اهدافو د رسیدو په موخه چارې تنظیمول.

۴- د کمپیوټر او ټکنالوژۍ په عصري او نوی میتودونو سمبال د یوې سالمې او اغیزمنې ټولنې رامنځ ته کول.

---

## ۸,۱ د پوهنځی موخې او اهداف

د کمپیوټرساینس پوهنځی ستراتېژیک پلان جوړونې څخه موخه د لوړو زده کړو د بهیر چټکتیا او ښه والی دی تر څو په ټولنه کې د شته ناورینونو او ستونزو پای ته رسېدو په برخه کې خپله ونډه واخلي. پوهنځی د ټاکلو ارزښتونو، لیدلوري او معیارونو په پام کې نیولو سره داسې وړ، مسلکي او معیاري کادرونه روزي چې د ټولنې په پرمختګ او د ستونزو په حل کې د خدمت وړاندې کولو جوګه شي. دکمپیوټرساینس پوهنځی پورته ارزښتونو او لیدلوري ته د رسېدو په موخه په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې اهداف تعقیبوي:

- د علمي او څېړنیزو چارو په برخه کې په ملي او نړیوالو معیارونو برابر علمي پروګرام رامنځته کول
- د بېلابېلو علمي او تخصصي پروګرامونو د پلي کېدو لپاره دمعیاري ودانیو ،مادي او کاري وسایلو برابرول

- د لوړو زده کړو په برخه کې غوره خدمتونو وړاندې کولو په پار د هر اړخيزې خپلواکۍ ترلاسه کول
- د لوړو زده کړو په برخه کې د روڼ او شفاف بهير رامنځته کول
- د ځېړنو پر مټ د ټولنې ستونزی پېژندل او ورته مناسبې حللارې پيدا کول
- د لوړو زده کړو وزارت، ولايت، تمويلونکويا ډونرانو، پراختيايي ښکېلو خواوو او نورو تمويلوونکو ادارو او اشخاصو په وړاندې د پوهنځی څخه اغېزمنه استازولي او له دوی سره د ښو اړيکو ټينګول
- د وخت او اړتياووله غوښتنو سره سم په بېلابېلو برخو کې د مسلکي اشخاصو روزل
- د لوړو زده کړو له لارې د قانون حاکميت، عدالت تامين، اقتصادي ودې او امنيت تامينولو ته زمينه برابرول

## ۹,۱ (SWOT) تحليل

ستراتېژيک پلانونه د علمي پروګرامونو ستراتېژيکې موخې ټاکي او همدغو موخو ته د رسېدو لپاره مسير او اړوند لازمي کړنې په نښه کوي. موخې ته رسېدل تر هغې شونې ندي چې ترڅو علمي پروګرامونه خپله پياوړتيا، کمزورتيا، فرصتونو او تهديدونو څخه خبر او پر لاملونو يې غور ونکړي.

د دې لپاره چې پوهنځی د پورته ذکر شويو ټکو په اړه پوره معلومات له ځانه سره ولري، لازمه ده، چې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره خپل

| قوت (Strength) | ضعف (Weakness) |
|---|---|
| • د ځوان او با انرژي علمي کادرونو او اداري کارکوونکو درلودل.<br>• د عملي کار لپاره د کمپيوټر لب شتون.<br>• د پوهنتون په کچه کتابتون شتون.<br>• منظمه رهبري او متعهد کاري ټيم درلودل.<br>• د پوهنتون په کمپټو کې غړيتوب درلودل.<br>• د پوهنځيو په کچه د لسو کمېټو شتون.<br>• د کرېډيټ سيستم تطبيق.<br>• په کافي اندازه د اداري منابعو شتون.<br>• د نوي درسي نصاب تطبيق.<br>• اداري تعمير.<br>• مجهز ټولګي درلودل.<br>• د HEIMS سيستم تطبيق.<br>• د انټرنټ شتون.<br>• د استاد او محصل ترمنځ د ۱/۲۵ نسبت شتون.<br>• د منظم کمپيوټر لب شتون. | • د ماستری او دوکترا په سويه د علمي کادرونو ستونزه.<br>• د مجهزو معياري ټولګيو کمښت.<br>• د تدريس لپاره مجهز او معياري کمپلکس نه درلودل.<br>• مناسب تدريسي چاپيريال نشتون.<br>• د ځيړنيز مرکز نشتون.<br>• د استادانو او اداري کار کوونکو د کورونو ستونزه.<br>• د عملي کار لابراتوار لپاره د مسلکي لابرانت نه درلودل.<br>• د آمريتونو لپاره ځانګړې شعبه نه درلودل. |

| گواښونه (Threats) | فرصتونه (Opportunities) |
|---|---|
| • د آزموینو ملی اداري له لارې د ټیټې سویې محصلینو معرفي کېدل.<br>• د علمي کادرونو او خدماتي کارکوونکو محدود تشکیل.<br>• د استادانو د معاشاتو کمښت.<br>• د نصاب مطابق د درسي منابعو نشتون.<br>• په ګمارنو کې د غیر ذیربط اشخاصو او ادارو لاس وهنه.<br>• د ټولنې ضعیف اقتصادی وضعیت.<br>• د محصلینو لپاره د لیلیې نه شتون. | • له لوړو زده کړو سره د ځوان نسل لیوالتیا.<br>• په ټولنه کې د ښه نوم درلودل.<br>• له اړونده تعلیمي اداراتو سره د ښو اړیکو درلودل.<br>• د نوي علمي تکنالوژۍ د تطبیق لپاره د ظرفیتونو شتون.<br>• د ټولنې همکاري او ملاتړ درلودل.<br>• په هیواد کې دننه لنډ مهاله مسلکي کورسونو او ورکشاپونو درلودل.<br>• د زیربینا لپاره د لازم چاپیریال شتون. |

معنوي او فزیکي انځور خپلې مخې ته کېږدي او خپلې ټولې مادي او معنوي زیرمې په هر اړخیزه توګه و ارزوي چې په نتیجه کې د راتلونکو پرمختګونو او موخو ته د رسېدو بشپړ پلان ولري. کمپیوټرساینس پوهنځی یادې موخې لاسته راوړلو لپاره د SWOT لاندینۍ تحلیل ترسره

## د داخلي لاملونو تحلیل

**پوښتنپاڼه :** د داخلي او خارجي وضعیت اړوند د معلوماتو دراټولولو په موخه له پورته ذکر شویو عواملو څخه یاد کاري ټیم لخوا پوښتنپاڼې طرحه او ترتیب کړل شوې. د داخلي وضعیت تحلیل لپاره ۲۳ واحد لرونکې پوښتنپاڼه او د خارجي وضعیت تحلیل او ارزونې لپاره ۱۴ واحد درلودونکې پوښنپاڼه، د ۵ کالم درلودونکې؛ چې لومړئ کالم د واحد شمېرې ته، دوهم کالم د پوښتنپاڼې واحدونو، دریم کالم ضریب (چې د ټولو ضرایبو مجموعه له ۱ تجاوز نکوي)، څلورم کالم رتبې (۴-۳ یا هم ۲-۱)، او پنځم کالم نمرې ته ځانګړې شوي دي ( ۱ شمېره ضمیمه ).

پورته ذکر شوې پوښتنپاڼې د کمپیوټر ساینس پوهنځی داخل کې (رهبرۍ غړو، آمرینو، استادانو، مدیرانو او محصلینو ته)، او له پوهنځی څخه د باندې ( پخوانیو ریيسانو، او نورو برخو کسانو ته ) توزیع او له ډکولو وروسته را ټولې کړی شوې دي.

په دغه سروې کې ۲۱ کسانو برخه اخیستې، چې ټول یې تحصیل یافته او ورډګ د لوړو زده کړو مؤسسې او سیمې اړوند د پوهې خاوندان دي.

دپوښتنپاڼو اړوند معلومات چې دکاري ټیم له خوا راټول شوي دی په لاندې جدول کې ښودل کیږي.

| شمېره | داخلي عوامل (قوتونه او ضعفونه) | وزني ضریب | وزني امتیاز | موزون ضریب |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د ځوان او با انرژي علمي کادرونو او اداري کارکوونکو درلودل. | 0.03 | 4 | 0.12 |
| ۲ | د عملي کار لپاره د کمپیوټر لب شتون. | 0.02 | 4 | 0.08 |
| ۳ | د پوهنتون په کچه د کتابتون شتون. | 0.03 | 4 | 0.12 |
| ۴ | منظمه رهبري او متعهد کاري ټیم درلودل. | 0.02 | 3 | 0.06 |
| ۵ | د پوهنتون په کمپتوکې غړیتوب درلودل. | 0.03 | 4 | 0.12 |
| ۶ | د پوهنځی په کچه د لسو کمپټو شتون. | 0.04 | 4 | 0.16 |
| ۷ | د کریډیټ سیستم تطبیق. | 0.02 | 3 | 0.06 |
| ۸ | په کافي اندازه د اداري منابعو شتون. | 0.03 | 4 | 0.12 |
| ۹ | د نوي درسي نصاب تطبیق. | 0.04 | 3 | 0.12 |
| ۱۰ | اداري تعمیر. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۱۱ | مجهز ټولگی درلودل. | 0.07 | 3 | 0.21 |
| ۱۲ | د HEMIS سیستم تطبیق. | 0.08 | 4 | 0.32 |
| ۱۳ | د انټرنیټ شتون. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۱۴ | د استاد او محصل ترمنځ د $\frac{۱}{۲۵}$ نسبت شتون. | 0.05 | 4 | 0.2 |
| ۱۵ | د منظم کمپیوټر لب شتون. | 0.04 | 4 | 0.16 |
| داخلي عوامل (ضعفونه) | | | | |
| ۱۶ | د ماسټري او دوکتورا په سویه د علمي کادرونو کمبود. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۱۷ | د مجهزو معیاري ټولگیو کمښت. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۱۸ | د تدریس لپاره مجهز او معیاري کمپلکس نه درلودل. | 0.02 | 1 | 0.02 |
| ۱۹ | مناسب تدریسي چاپیریال نشتون. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۲۰ | څېړنیز مرکز نشتون. | 0.1 | 2 | 0.2 |
| ۲۱ | د استادانواو اداري کارکوونکو د کورونو ستونزه. | 0.06 | 1 | 0.06 |
| ۲۲ | د عملي کار لابراتوار لپاره د مسلکی لابرانټ نه درلودل. | 0.01 | 2 | 0.02 |
| ۲۳ | د آمریتونو لپاره ځانگړې شعبه نه درلودل. | 0.05 | 1 | 0.05 |
| **مجموعه** | | **1.00** | | **2.8** |

د یادونې وړ ده، کوم ارقام چې دلته راوړل شوي مکمل ندي، ځکه چې د حسابي عملیو په سرته رسولو سره د عشاري ارقامو په پایله کې بدلون راغلی.

**د خارجي لاملونو تحلیل**

## جدول 3: د خارجي لاملونو اړوند ډیټا تحلیل

| شمېره | بیروني عوامل (فرصتونه) | ضریب | امتیاز | نمره |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | له لوړو زده کړو سره د ځوان نسل لیوالتیا. | 0.15 | 4 | 0.6 |
| ۲ | په ټولنه کې د ښه نوم درلودل. | 0.15 | 4 | 0.6 |
| ۳ | له اړونده تعلیمي اداراتو سره د ښو اړیکو درلودل. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۴ | د نوي علمي تکنالوژۍ د تطبیق لپاره د ظرفیتونو شتون. | 0.1 | 4 | 0.4 |
| ۵ | د ټولنې همکاري او ملاتړ درلودل. | 0.1 | 4 | 0.4 |
| ۶ | په هیواد کې دننه لنډ مهاله مسلکي کورسونو او ورکشاپونو درلودل. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| ۷ | د زیربینا لپاره د لازم چاپیریال شتون. | 0.05 | 3 | 0.15 |
| | بیروني عوامل (تهدیدونه) | | | |
| ۸ | د آزموینو ملی ادارې له لارې د ټیټې سویې محصلینو معرفي کېدل. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۹ | د علمي کادرونو او خدماتي کارکوونکو محدود تشکیل. | 0.05 | 1 | 0.05 |
| ۱۰ | د استادانو د معاشاتو کمښت. | 0.05 | 1 | 0.05 |
| ۱۱ | د نصاب مطابق د درسي منابعو نشتون. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۱۲ | په ګمارنو کې د غیر ذیربط اشخاصو او ادارو لاس وهنه. | 0.05 | 2 | 0.1 |
| ۱۳ | د ټولنې ضعیف اقتصادی وضعیت. | 0.05 | 1 | 0.05 |
| ۱۴ | د محصلینو لپاره د لیلیې نه شتون. | 0.05 | 1 | 0.05 |
| | **مجموعه** | **1** | | **2.95** |

د پورته ذکر شویو قوت نقاطو او فرصتونو څخه په استفادې سره هڅه کیږي چې ضعفونه له منځه یوړل شي او تهدیدات دفع کړای شي، چې په ۳ شمیره جدول کې په ګوته شوي دي.

| داخلي عوامل / خارجی عوامل | قوتونه (S) | ضعفونه (W) |
| --- | --- | --- |
| داخلي عوامل<br>خارجی عوامل | • د ځوان او با انرژي علمي کادرونو او اداري کارکوونکو درلودل.<br>• د عملي کار لپاره د کمپیوټر لب شتون.<br>• د پوهنتون په کچه کتابتون شتون.<br>• منظمه رهبري او متعهد کاري ټیم درلودل.<br>• د پوهنتون په کمپټو کې غړیتوب درلودل.<br>• د پوهنځیو په کچه د لسو کمپټو شتون.<br>• د کریډیټ سیستم تطبیق.<br>• په کافي اندازه د اداري منابعو شتون.<br>• د نوي درسي نصاب تطبیق.<br>• اداري تعمیر.<br>• مجهز ټولګي درلودل.<br>• د HEIMS سیستم تطبیق.<br>• د انټرنټ شتون.<br>• د استاد او محصل ترمنځ د ۱/۲۵ نسبت شتون.<br>• د منظم کمپیوټر لب شتون. | • د ماسټرۍ او دوکترا په سویه د علمي کادرونو ستونزه.<br>• د مجهزو معیاري ټولګیو کمښت.<br>• د تدریس لپاره مجهز او معیاري کمپلکس نه درلودل.<br>• مناسب تدریسي چاپیریال نشتون.<br>• د څیړنیز مرکز نشتون.<br>• د استادانو او اداري کار کوونکو د کورونو ستونزه.<br>• د عملي کار لابراتوار لپاره د مسلکي لابرانت نه درلودل.<br>• د آمریتونو لپاره ځانګړې شعبه نه درلودل. |
| فرصتونه(O)<br>• له لوړو زده کړو سره د ځوان نسل لیوالتیا.<br>• په ټولنه کې د ښه نوم درلودل.<br>• له اړونده تعلیمي اداراتو سره د ښه اړیکو درلودل.<br>• د نوي علمي تکنالوژۍ د تطبیق لپاره ظرفیتونو شتون.<br>• د ټولني همکاري او ملاتړ درلودل.<br>• په هیواد کې دننه لنډ مهاله مسلکي کورسونو او ورکشاپونو درلودل.<br>• د زیربینا لپاره د لازم چاپیریال شتون. | له (S1) څخه په استفادې سره (O1) او (O3) ته لاسرسی مومو.<br>له (S2) څخه په استفادې سره ځانونه (O1) او (O4) ته رسولی شو<br>له (S4) څخه په ګټه اخیستنې سره کولای شو (O6) ته ورسیږو.<br>له (S7) څخه په کار اخیستلو سره کیدای شي (O2) او (O4) تر لاسه شي. | له (O1)، (O3)، (O4) او (O5) څخه په ګټه اخیستنې سره (W1) له منځه وړ کیدی شي.<br>له (O3) او (O7) په کارولو سره (W2) او (W3) رفع کیدای شي.<br>له (O3) او (O4) په کارولو څخه په استفادې سره (W4) له منځه وړلی شوو. |

| | | |
|---|---|---|
| تهدیدونه(T)<br>• د آزموینو ملی اداري له لارې د ټیټې سویې محصلینو معرفي کېدل.<br>• د علمي کادرونو او خدماتي کارکوونکو محدود تشکیل.<br>• د استادانو د معاشاتو کمښت.<br>• د نصاب مطابق د درسي منابعو نشتون.<br>• په ګمارنو کې د غیر ذیربط اشخاصو او ادارو لاس وهنه.<br>• د ټولنې ضعیف اقتصادی وضعیت.<br>• د محصلینو لپاره د لیلیې نه شتون. | د (S2)، (S4) او (S7) په کارولو سره (T1) دفع کیدی شي.<br>له (S7) او (S9) په کارولو سره (T4) له منځه تللی شي.<br>د (S1) په ذریعه (T6) دفع کیدای شي. | |

# ۲. دریم څپرکی

## ۱,۲ علمي اواکاډمیک پروګرامونه

د علمي بنسټونو اصلي دنده د علمي کړنو ترسره کول دي. په همدې اساس، کمپیوټرساینس پوهنځی په پام کې لري چې د یو با کیفیته او پرمختللي پوهنځی په توګه بېلابېل ســاینسي، ټولنیز او څېړنیز پروګرامونه پر مخ یوسي چې له امله یې په هېواد او نړۍ کې د انســاني ژوند په ښــه والي او پرمختګ کې پوره ونډه لرلي وي. په دې لړ کې پوهنځی د علمي او اکاډمیکو پروګرامونو د پیاوړتیا لپاره لاندې کړنې ترسره کوي:

## ۲,۲ په علمي کادر کې وړ او مسلکې استادانو ته پراختیا ورکول

دا چې دکمپیوټرساینس پوهنځی د لوړو زده کړو وزارت قانون او مقرراتو سره سم په بېلا بېلو علمي، مسلکي او تخصصي برخو کې ټولنې او سیمې ته وړ کادرونه روزي، نو تل هڅه کوي چې د مسلکي او وړ کادرونو په جذبولو کې لاندې ټکي په پام کې ونیسي:

- د لوړو زده کړو وزارت د قانون او تقرر شرایطو په رڼا کې داسې اشخاص په کادر کې جذبول چې اکاډمیکو ارزښتونو ته ژمن وي.
- د مسلک او تخصص په پام کې نیولو سره د پیاوړو او مناسبو اشخاصو ګمارل
- په تقرر کې وړ دوکتور او ماستر تشخیصول او لومړیتوب ورکول
- په کادر کې د شمولیت لپاره د شفافې پروسې رامنځته کول
- د مؤسسې د لوړې سویې او لایقو استادانو او غړو ساتنه اود وړتیاووڅخه یې پوره ګټه اخستل
- د موجوده علمي کادرونو ظرفیت لوړونه او پراختیا ورکول

## ۳,۲ د علمي کادر غړو ظرفیت لوړول

د اداری او علمي پروګرامونو د هر اړخیز پرمختګ یو مهم لامل د اړوندو ادارو بشرـي ځواک او کار کوونکي ګڼل کېږي. کار کوونکي د مربوطه ادارو د رهبرۍ چارې په ښـــه ډول ترسره کوي او هم ورته د اهدافو تحقق لپاره بېلابېلې مادي او معنوي سرچینې رامنځته او ورڅخه موثره ګټه پورته کوي. پر همدې ا ساس، دکمپیوټرساینس پوهنځی د پرمختګ او پراختیا لپاره په پام کې لري چې د علمي او اداري کاري ځواک د ظرفیت د کچې د لوړولو په پار لاندې کړنې په راتلونکو پنځو کلونو کې ترسره کړي:

- د شته مسلکي او منلو کادرونو څخه د څانګې، پوهنځی، او مؤسسې په پرمختیایي او روزنیزو چارو کې ګټه پورته کول
- د پوهنځی پرسونل ته د نویو اړتیاوو د پېژندنې په اړه د داخلي روزنو او ټریننګونو فرصتونونو برابرول

- د پوهنځی د شته کادرونو، استادانو او غړو ساتنه
- په ښوونیزو مهارتونو، وړتیاوو او نويو ټکنالوژۍ باندې د علمي کادرونو سمبالول
- د ستراتیژیک پلان او کړنلارو د پلي کیدو په اړه د اداري پرسونل روزل
- د غوره زده کړې او ښوونې د زیاتېدنې او وده ورکونې په موخه دلرې واټن د زده کړې لپاره اسانتیاوو برابرول
- د با استعداده او وړ استادانو له پاره د علمي ، څېړنیزو او عملي پروژو عملي کولو اسانتیاوو برابرول

## ۴,۲ علمي څېړنه او پلان جوړونه

په نړیواله کچه څېړنې او د څېړنو په پار پلان جوړونه د ځانګو او علمی برنامو د ودې او پرمختګ په برخه کې خپل ځانګړی رول لوبوي. هره ټولنه او د ټولنې وګړي د ستونزو حل او پرمختګونو رامنځته کولو په غرض علمي څېړنې ترسره کوي. د کمپیوټرساینس پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې ژمن دی چې د علمي څېړنو د ترسره کولو او ودې ورکولو لپاره لاندې کړنې ترسره کړي:

- د پوهنځی او ځانګو په کچه د څېړنو یو موثر میکانېزم رامنځته کول
- د څېړنیزو کړنو او پروژو د ترسره کولو له پاره د بودجې او امکاناتو برابرول
- دنړیوالو پوهنتونونو سره اړیکو ټینګول او دڅېړنیزو پروګرامونو پرمخ بیولو له پاره د مرستو جلبول
- د شته لابراتورونو تجهیز او رغونه
- د څېړنیزو پروژو د پایلو او لاسته راوړنو خپرول او د اړوند ادارو سره یې شریکول
- د پوهنځي څیړنیزو مرکزونو له لوري د خصوصي سکتور دستونزو او اړتیاوو حل له پاره د څېړنیزو پروژو طرحه کول
- د څېړنې په برخه کې د علمي، اداري پرسونل او محصیلینو روزل
- د څېړنیزو پروګرامونو ترسره کولو له پاره استادان بهرنیو هیوادونو ته استول چې دعلمي، څېړنیزو او نظري کارونو ترسره کولو وړتیا ترلاسه او له غوره پایلو سره هېواد ته راستانه شي.

## ۵،۲ د نصاب پراختیا

دا چې نړۍ او ټولنه په دوامداره توګه د بدلون او پرمختګ په حال کې ده، علمي مؤســـســـې اړ دي،چې د خپلو علمي پروګروامونو کریکولمونه د وخت، بازار او نورو ښــکېلو خواوو د غوښــتنو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره د کریکولم د بیاکتنې په ترځ کې د نصــاب موضــوعاتو کې وخت په وخت نوي او مثبت بدلونونه رامنځته کړي. پوهنځی د خپلو اړوند علمي پروګرامونو د مثبت بدلون او د شرکاوو غوښــتنوته د ځواب ویلو په موخه په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي:

- د پوهنځی اوڅانګو په کچه د کریکولم د کمېټو پیاوړي کول
- د کریکولم کمېټې غړو لپاره د اصلاحاتو په موخه نوې کړنلارې او پالیسۍ تهیه کول
- د پوهنځی او څانګو په کچه د علمي کادر غړو لپاره د کریکولم د نوي والي او سمون په موخه د لازمو ترینګونو چمتو کول
- د کرېکولم په بیاکتنه او پراختیا کې د متخصصو اشخاصو، فارغانو او کارګمارنې مراجعو سره مشورې کول.
- له اړتیا سره سم له نړیوالو پوهنتونونو سره د کریکولم په بیا سمونه کې ملتیا.
- نړیوالو معتبرو پوهنتونونو څخه د نویو چاپ شویو خپرونو او کتابونو ترلاسه کول.
- له کریکولم څخه د مطلوبو موخو د لاسته راوړلو په غرض ارزونه
- له تاکل شوي کریکولم سره سم د درسي موادو تهیه او برابرول
- د کریکولم د پلي کېدو څخه د ډاډ په موخه د اړوندو علمي کادرونو څخه راپورونه راټولول
- د لوړو زده کړو وزارت نوي ســـتراتیژیک پلان یو هدف د لوړو زده کړو په برخه کې د تدریس عنعنوي میتود په( OBE) د موخو په اساس زده کړې او( SCL) شاګرد محوري بدلول دي

## ۶،۲ د کیفیت لوړاوي او اعتبار ورکول

علمي برنامو د خپلو ملي او نړیوالو تحصیلي معیارونو په رڼا کې د خپلو خدماتو د ښه باور ترلاسه کولو په موخه تل هڅه کوي چې په خپلو علمي او څېړنیزو پروګرامونو کې بهتروالی راولي. نومورې چارې د ملي او یا هم د نړیوالو اعتبار ورکونکو ادارو لخوا دبیا کتنې او ارزونې پروسو په بهیر کې ارزول کېږي چې په پایله کې یې اړوند پوهنتونونو خدمات د اعتبار بېلابېلې درجې ترلاسه کوي او د علمي او څېړنیزو چارو د نوي والي او غوره والی سبب ګرځي. کمپیوترساینس پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې د ښه باور او اعتبار تر لاسه کولو لپاره د کیفیت لوړاوی او اعتبار ورکونې په برخه کې لاندې کړنې تر سره کوي:

- د ملي او بین المللي لوړاویونکو ادارو څخه د کیفیت لوړاوي او اعتبار لاسته راوړل
- په ملي او بین المللي کچه پوهنځی د خدماتو کیفیت او درجې لوړول
- د کیفیت لوړولو په موخه د مسلکي کاري ټیم رامنځته کول
- په ټولنه کې د پوهنځی د اعتبار زیاتولو لپاره د ټولنیزو ستونزو په حل کې فعاله ونډه اخستل
- په پوهنځی کې د ښو زده کړو ټولې اسانتیاوې برابرول
- د نظري زده کړو په څنگ کې عملي زده کړو ته اسانتیاوې برابرول
- د کیفیت د ښه والي په موخه د نورو علمي برنامو سره همغږي
- په زده کړو کې د تدریس نویو میتودونو څخه گټه پورته کولو لپاره اسانتیاوې برابرول
- د پوهنتون د ستراتېژیکو موخو د تحقق لپاره له اړوندو پوهنځیو او څانگو سره همغږي
- د روزنیزو پروگرامونو پیاوړتیا او عامول
- محصیلنو، اداري او علمي کادر غړیو ته کیفیت د ښه والي د معیارونو په هکله عامه پوهاوی ورکول

## ۷,۲ د ښونیزو موادو چمتو کول

نن ورځ د نړۍ پوهنتونونه په دې هڅه کې دي چې د باور ترلاسه کولو لپاره خپلو علمي پروگرامونو د کریکولمونو د سمون وروسته اړونده درسي مواد د نویو میتودونو په پام کې نیولو سره چمتو کړي، چې د مناسبو ښوونیزو موادو په تدریس سره وکولای شي چې له یوې خوا د وخت شرایط او بدلونونه په پام کې ونیسي او له بلې خوا د خپلو اړوند ښکېلو خواوو غوښتنو ته مثبت ځواب ووایي چې پایله به یې د مربوطه پوهنتون د لوړې درجې او باور تر لاسه کول وي. کمپیوټرساینس پوهنځی په راتلونکو کلونو کې د ښه باور د ترلاسه کولو په موخه د خپلو علمي پروگرامونو د ښوونیزو موادو د چمتو کولو په برخه کې لاندې کړنې تر سره کوي:

- د نصاب او درسي موادو د سمون او ښه والي لپاره د کریکولم کمېټې چارو ته پراختیا ورکول
- د کرېکولم کمېټې کړنې د نویو مېتودونو سره همغږې کول
- په پوهنځی کې د نصاب او کریکولم کمېټې چارو ته ځانگړې پاملرنه او پراختیا ورکول
- د درسی موادو د پیاوړتیا په موخه د علمي کادر غړیو د تالیفاتو چارو ته خاصه توجه کول په دې برخه کې د هغوی هڅونه

## ۸,۲ د برېښنايي زده کړو پروګرامونه

دا چې په نړيواله کچه علمي پروګرامونه د حضوري زده کړو تر څنګ د غير حضوري زده کړو پروګرامونه پر مخ وړي او د شته امکاناتو پر مټ د خپلو خدماتو پو ښښ ته پراختيا ورکوي ، دې موخې ته د رسېدو په پار علمي پروګرامونه په خپلو خدماتو کې د ټکنالوژۍ ونډه زياته او موثره ګټه ترې پورته کوي. د علمي او څېړنيزو بهيرونو د پياوړتيا او موثريت لپاره علمي پروګرامونه خپلو اړونده ښکېلو خواوو ته د برېښنايي اسانتياوو په چمتوکولو سره هر اړخيز نوی والی او مثبت بدلون رامنځته کوي. د حضوري علمي پروګرامونو سره په څنګ کې علمي مؤسسې اړ دي چې د انلاين کورسونو او ګډو زده کړو لپاره د انلاين سرچينو اسانتياوې رامنځته او ګټه ترې پورته کړي. د نوموړې چارې د ښه مديريت په موخه پوهنځی په راتلونکو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي:

- د برېښنايي زده کړو کمېټې ته پراختيا ورکول
- د برېښنايي زده کړو په اړه علمي کادر غړيو ته د ورکشاپونو برابرول
- د برېښنايي زده کړو د پروګرامونو پلي کېدلو څخه بشپړه څارنه
- د برېښنايي زده کړو د ښه ترسراوي لپاره د يوې ځانګړې پاليسۍ(کړنلارې) رامنځته کول
- ټولو محصيلينو ته د برېښنايي زده کړو په هکله معلومات ورکول

## ۹,۲ معلوماتي ټيکنالوژۍ ته لاسرسی

دا چې په نړۍ کې معلوماتي ټکنالوژي د معلوماتو په ترلاسه کولو، خونديتوب ، د اړيکو په ټينګولو، ښه مديريت او د روزنيزو پروګرامونو په برخه کې رغنده دنده ترسره کوي، اړينه ده چې علمي پروګرامونه هم په کافي اندازه خپلې چارې د معلوماتي ټکنالوژۍ پر مټ پياوړي کړي. پوهنځی هم معلوماتي ټکنالوژۍ څخه د خپلو چارو د انسجام او چټکتيا په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

- زېربېناوو ته پراختيا او وده ورکول
- د اداري، تخنيکي او مديريتي چارو سمون او پراختيا
- د اي ټي امنيتي وسايلو ته پاملرنه او پراختيا
- د محصلينو لپاره کمپيوټر ليبونو جوړولو هڅه کول تر څو معلوماتي ټيکنالوژۍ ته لا زيات لاسرسی ولری

# ۳. څلورم څپرکی

## ۱,۳ لوړو زده کړو ته لاسرسی

زده کړې د ټولنې د وګړو یو له اساسي حقوقو څخه ګڼل کېږي، چې له نېکه مرغه د هېواد د اساسي قانون له مخې د لیسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې د دولت لخوا په وړیا توګه د قانون د حکمونو په پام کې نیولو سره د پوهنتونونو لخوا وړاندې کېږي. د کمپیوټرساینس پوهنځي لوړو زده کړو ته د ټولنې د لاسرسی په موخه د ورځې په اوږدو کې هره ورځ خپلې کړنې ترسره کوي. لوړو زده کړو ته په شفافه توګه د لاسرسي په موخه پوهنځي په راتلونکو کلونوکې لاندې کړنې ترسره کوي:

- د لوړو زده کړو د اهمیت په اړه عامه وګړو ته د عامه پوهاوي په پار هر اړخیز معلومات وړاندې کول
- له هر ډول توپیر پرته هېوادوالو ته په مساویانه ډول د زده کړو حق ورکول او اسانتیاوې برابرول
- د وخت او بازار د غوښتنو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره د نویو علمي پروګرام عیارول

## ۲,۳ لوړو زده کړو ته پراخه لاسرسی

هېوادونه هڅه کوي چې خپلو وګړو ته په پراخه توګه د لوړو زده کړو ترلاسه کولو لپاره بېلابېلې اسانتیاوې برابرې کړي او هېواد یې په هر اړخیز ډول پرمختګ او وده وکړي. د افغانستان لوړو زده کړو وزارت هم پدې هڅه کې دی چې د هېواد وګړي یې په بېلابېلو علمي برخو کې لوړو زده کړو ته پراخه لاسرسي ولري. وردګ **د لوړو زده کړو مؤسسه** په پراخه توګه لوړو زده کړو ته د لاسرسي په موخه ګڼ شمېر علمي پروګرامونه په بېلا بېلو برخو او وختونو کې ( سهار او له وخته وروسته) پرمخ بیايي. لوړو زده کړو ته په شفافه توګه د پراخه لاسرسي په موخه پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي:

- په پوهنځی کې د ټولو علمي پروګرامونو څخه موثره ګټه پورته کول
- خپلو علمي پروګرامونو د جذب ظرفیت ته پراختیا ورکول
- عامه وګړو ته د علمي پروګرامونو په اړه پوره او نوي معلومات ورکول
- د وخت له غوښتنو سره سم د نویو علمي پروګرامونو رامنځته کول

## ۳,۳ د کرېډټ سیستم پیاوړتیا او پلی کول

د نړۍ ډېرې پوهنتونونه د کریډیټ سیستم د اصولو په رڼا کې خپل روزنېز پروګرامونه پر مخ بیایي او له دې لارې محصیلینو د ښو پایلو لرونکو زده کړو او اسانتیاوو زمینه برابروي چې له یوې خوا محصلین وکولای شي له خپل توان سره سم د زده کړو بهیر پرمخ یوسي او له بل پلوه د نظري زده کړو سره په څنګ کې د اړوندو عملي زده کړو له اسانتیاوو څخه هم برخمن شي. پوهنځی د کریډیټ سیستم زده کړو د پیاوړتیا او معیاري کېدو په پار لاندې کړنې په پام کې لري:

- د علمي کادر ټولو غړو ته د کریډیټ سیستم د عملي کېدو په اړه روزنیز ورکشاپونه جوړول
- د کریډیټ سیستم د موثریت په اړه محصیلینو ته معلومات ورکول
- په پوهنځي کې د کرېډیټ سیستم عملي کېدو څارل
- د کرېډیټ سیستم په ښه بڼه د پلي کېدو په هکله تدریسي او اجرایوي مدیرانو ته پوهاوی ورکول
- د پایلو پر بنسټ د زده کړو په نتیجه کې د کرېډیټ لایحې موخې ترلاسه کول
- د شاګرد محورۍ د زده کړو عننوې کول
- د کرېډیټ لایحې په اساس د عملي زده کړو پیاوړي کول
- د ټرانسکریپټونو د ترتیب په برخه کې د نمرو درجه بندي د فیصدۍ تر څنګ د GPA په سیستم برابرول

## ۴,۳ د زده کړیالانو لپاره د خدماتو او اسانتیاوو پیاوړتیا

مؤسسې هڅه کوي تل په خپلو علمي او خدماتي چارو کې محصلینو ته د پام وړ سهولتونه برابر او غوره پایلو په لرلو سره محصلین وروزي چې مؤسسې د هېواد او په نړیواله کچه د محصیلینو توجه او رضایت خپل کړي.  د خدماتو او سهولتونو په وړاندې کولو سره پوهنتونونه غواړي چې له یو پلوه په علمي ټولنه کې خپل حیثیت لوړ کړي او له بل پلوه له همدې لارې مالي او مادي امکانات پراخه کړي. پوهنځي د غوره خدماتو او اسانتیاوو د پیاوړي کولو په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

- محصیلینو ته د علمي سفرونو زمینه برابرول
- سپورتي اسانتیاوې برابرول
- محصلینو ته د زده کړو د برابرولو ترڅنګ، د لازمو مهارتونو چمتووالی
- د وېبسایټ له لارې محصلینو ته پوره معلومات په واک کې ورکول


- د محصلینو وړاندیزونو او شکایاتو ته لاسرسی
- د علمي او عملي زده کړو په برخه کې محصلینو لپاره اړوندو سکتورونو سره د توامیتونو رامنځته کول
- محصلینو ته د عملي پیاوړتیا په موخه د بېلابېلو تمثیلي پروګرامونو او سمینارونو چمتو کول
- د مؤسسې د امکاناتو په پام کې نیولو سره محصلینو (ښځینه او نارینه) لپاره ټرانسپورټ ته پراختیا ورکول
- د محصلینو د علمي ظرفیت لوړاوي په موخه کتابتوني سهولتونوته پراختیا ورکول
- په پوهنځی کې د اړوندو لابراتوارونو کیفیت او خدماتو ته پراختیا ورکول
- محصلینو ته د ښې زده کړې لپاره د مناسب چاپېریال رامنځته کول
- په نړیوالو علمي سیالیو کې محصیلینو ته د برخې اخستنې زمینه برابرول

# ۴. پنځم څپرکی

## ۱,۴ د کمپیوټر ساینس پوهنځی ستراتیژیک موقیعت


د داخلي او خارجي وضعیت اړوند کومې پوښتنپاڼې چې د خبره کسانو لخوا ډکې شوي پرمټ د امتیازاتو د محاسبې په وسیله د کمپیوټر ساینس پوهنځی ستراتیژیک موقیعت ټاکل شوی او په لاندې ډیاګرام کې ښودل کیږي.

د داخلي او خارجي فکتورونو په نه خونو میټرکس کې که چیري د نمرو له مخې، د پوهنځی موقعیت په VI، III، II خونو کې ځاي په ځاي شي نو دا د پوهنځی وده او پرمختګ څرګندوي. او که دا په IX, V, I خونو کې ځای پرځای شي، دا د پوهنځی د ساتنې او ثبات ستراتیژیو استازیتوب کوي. او که چیرې دا د IIX, VII, IV په خونو کې ځای پرځای شي، دا د دفاعي او کمولو ستراتیژیو ته اشاره کوي. نو د کمپیوټر ساینس پوهنځی ستراتیژیک موقیعت د اخیستل شوو نمرو له مخې په IIIخونه کې موقعیت لري چې وده او پرمختګ څرګندوي.



## ۲,۴ د کمپیوټر ساینس پوهنځی ستراتیژیک حالت

د داخلي او خارجي وضعیت اړوند کومې پوښتنپاڼې چې د خبره کسانو لخوا ډکې شوي پرمټ د امتیازاتو د محاسبې په وسیله د کمپیوټر ساینس پوهنځی ستراتیژیک حالت ټاکل شوی او په لاندې ډیاګرام کې ښودل کیږي. نو د کمپیوټر ساینس پوهنځی ستراتیژیک حالت د اخیستل شوو نمرو له مخې په اوله خونه کې موقعیت لري چې د تهاجمی حالت څرګندوي.




## ۳,۴ د کمپیوټر ساینس پوهنځی ستراتیژۍ ګانې

دا چې کمپیوټر ساینس پوهنځی د داخلي او خارجي عواملو ارزونې ماتریکس پر بنسټ په اوله ساحه (تهاجمی) کې قرار لري، د یاد پوهنځی موخې او مقاصد په کلي او فرعي سطحو کې په لاندې توګه معرفي کیږي.

# ۵. دوهم څپرکي

## ۱,۵ حکومتولي

دکمپیوټر ساینس پوهنځی اداري جوړښت په رآس کې د پوهنځی رئیس قرار لري. د دې تر څنګ، یاده پوهنځی د ۸ استادانو لرونکې ده چې اړونده پوهنځی د رئیس لخوا اداره او چارې یی په اغیزمن ډول پرمخ روانې دي. د پوهنځې رئیس په پام کې لري چې د لا اغیزمنتیا په پار نورې لازمې کړنې هم ترسره کړي، نو دا بهیر تل ځاري. یاده پوهنځی د خپلو ټولو کړنو په برخه کې د لوړو زده کړو وزارت او د هیواد نافذه قوانین، پالیسۍ، او لوایح رعایتوي.

## ۲,۵ د رهبرۍ پروګرامونه

- د اړتیاوو په نښه کول او د رفع کولو لپاره یې کوښښونه
- ستونزو او ګواښونو ته رسیدګي
- د کارشکنۍ، تعصب او بې عدالتۍ په وړاندې مبارزه
- د مراجعینو، استادانو، کارمندانو او محصلانو شکایاتو ته په وخت رسیدګي کول.
- مسئولینو ته د کوښښنو، نوښتونو، مسئولیت منلو او صادقانه او شفاف خدمت کولو لپاره انګیزه ورکول.

## ۳,۵ د فساد پر ضد مبارزه

دا چې فساد یوه شومه پدیده ده او د پرمختګونو د مخنیوي لامل ګرځي، پوهنځی په پام کې لري چې د خپلو اړوندو چارو په برخه کې د هر ډول فساد مخنیوي په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

1. د اداري فساد مخنیوي اړوند ټولییز پوهاوي
2. د لوړو زده کړو وزارت په چوکاټ کې د مقرراتو، لوایحو او قوانینو پلي کول او ځارنه
3. په پوهنځی کې د فساد اړوند مواردو معلومول او ورته حل لارې پیداکول
4. د پوهنځی د ټولو ټولګیو څخه ځارنه

5. د مجازاتو او مکافاتو د اصل رایجول او پلي کول

6. دفتري چارې کمپیوټرایز کول

7. د ملي وحدت پر وړاندې د ستونزو او ننګونو له منځه وړل  او د ملي یو والي د پیاوړتیا په موخه د علمي پروګرامونو پلي کول

8. د هر ډول غیر قانوني کړنو مخنیوي کول

## ۴,۵ اداری بوروکراسی

په نړیواله کچه په ادارو کې بوروکراسي د چارو د ښه سمبالښت په برخه کې یو منل شوی اصل ګڼل کېږي، چې اداري یو لړ مهم اسناد د شواهدو په توګه له ځانه سره په دوامداره توګه و ساتي. بیا په ځینو مواردو کې منفي بوروکراسي چارې له خنډ او ځنډ سره مخ کوي لکه: د وخت  ضایع، د چارو نه ترسره کېدل، فساد او د مصارفو زیاتوالی. پر همدې ا ساس، مؤسسه تل هڅه کوي چې د چارو د چټکتیا، روڼوالي او موثریت په موخه د منفي بوروکراسۍ د لمنځه وړولو لپاره لاندې کړنې ترسره کړي:

- د معلوماتي ټکنالوژي پر مټ د پوهنځی د ادارو ښنبلول
- په اداري پروسو کې د غیر ضروري پړاوونو لمنځه وړل
- د اداري کړنو د روڼتیا په موخه د کمپیوټري پروګرامونو رامنځته کول
- په علمي چارو ګمارل شویو اشخاصو ته د مسولیت په پام کې نیولوصلاحیت سپارل

## ۵,۵ د عملیاتي پلان تائیدول

د ستراتېژیکو موخو لاسته راوړلو لپاره عملیاتي پلان او طرحې د وخت او امکاناتو په نظر کې نیولو سره د مدیریت یو اساسي اصل تشکیلوي، چې چارې په ټاکل شویو وختونو کې په اغېزمنه توګه د مثبتو پایلو په لرلو سره ترسره شي. پر همدې ا ساس، دپوهنځی د چارو د ښه سمون لپاره اړینه بولي چې د ستراستژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره عملیاتي پلانونه ترتیب او لاندې کړنې ترسره کړي:

- د عملیاتي پلان په جوړولو کې د ښکیلو خواوو شریکول
- د عملیاتي پلانونو د ترتیب او تا ئید څخه ډاډ ترلاسه کول
- د عملیاتي پلانونو د پلي کېدو او تطبیق څارنه

- عملياتي پلانونو سره سم د اړوندو کړنو راپورونو ترتيب او وړاندې کول
- د عملياتي پلانونو د نه اجراء شويو چارو لپاره د تدابيري پلانونو ترتيبول

## ۶,۵ د څارنې او ارزونې پياوړي کول

څارنه او ارزونه د اداري چارو د ښه ترسراوي لپاره د مديريت يو اصل دی، چې له مخې يې له يوې خوا د تېروتنو او اشتباهاتو مخنيوی کېږي او له بلې خوا داډ ترسره کېږي، چې چارې په معياري ډول له پلان سره سم پر مخ روانې دي. پر همدې ا ساس، څارنه او ارزونه د شفافيت رامنځته کولو او ســـتونزو د لمنځه وړلو لپاره مهمه کړنه شـــمېرل او د چارو د پراختيا او پرمختګ ســـبب ګرځي. پوهنځي له پلان سره ســـم د خپلو چارو ترسراوي څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه په دوامداره توګه د څارنې او ارزونې په برخه کې لاندې کړنې ترسره کوي:

- د رهبرۍ په کچه د چارو څخه ليدنه او تېروتنو د مخنيوي او سمون په موخه لازمې پرېکړې کول
- د اداري کړنو په هکله له پوره دقت څخه کار اخستل
- د علمي او اکاډميکو چارو د ګرنديتوب لپاره له اوږدو پروسو ډډه کول
- د څارنې او ارزونې لپاره د ځانګړو کمېټو رامنځته کول

## ۷,۵ توامیتونو پراختيا

علمي توامیتونه د تجربو شريکولو، ظرفيتونو لوړولو او مرستو په جلب کې د ځانګې سره ډېره مرسته کولی شي. دکمپيوټرساينس پوهنځی د تېر کال راهسې د بېلابېلو رياستونو او ادارو سره د توامیتونو ترسره کولو لپاره اړيکې نيولی او جريان لری. پوهنځی په راتلونکو کلونو کې د روان توامیتونو د ترسره کول او ساتلو او همدارنګه د نورو توامیتونو کولو لپاره لاندې کړنې ترسره کوي:

- د بهرنيو اړيکو او مرستو د جلب پوهنځی شموله کمېټه ايجادول
- په ياده کمېټه کې د نړيوالو تجربو لرونکو او ژمنو کادري غړيو ځای پر ځای کول
- يادې کمېټې ته پاليسي او اړوند ټول اداري اسناد چمتو کول
- د يادې کمېټې چارو ته پوره پاملرنه او پراختيا ورکول
- د يادې کمېټې پر هڅو د امکان تر بريده د نړيوالو او سيمه ييزو پوهنتونونو او ادارو څخه د توامیت له مخې د مرستو جلبول

## ۸,۵ د مرستو جذبول

په اوسني عصر کې هيڅ يوه اداره نشي کولی په يواځې ځان خپلې ټولې چارې په ښه ډول ترسره او خپلو موخو ته ورسېږي. نو بينا ټولې ادارې اړ دي چې د خپلو چارو د ترسره کولو په برخه کې داخلي او بهرنۍ همکارۍ او مرستې ترلاسه کړي. د کمپيوټر ساينس پوهنځی هم د خپلو چارو د ښه ترسراوي او پرمختګ لپاره کورنيو او بهرنيو مرستو ته اړتيا لري، چې د ترلاسه کولو په موخه يې لاندې کړنې په راتلونکو پنځو کلونو کې ترسره کوي:

- د مرستو د جلب او د اړيکو د ټينګولو کمېټو ته پراختيا ورکول
- له مربوطه ملي او بين المللي ادارو سره تواميتونو لاسليکول او حد اکثر ګټه ترې پورته کول
- کمېټو ته د اړونده چارو د ترسراوي لپاره د پلانونو او پاليسيو ترتيب او تهيه کول
- د ترسره شويو تواميتونو او اړيکو څخه د ځانګې په هر اړخيز پرمختګ کې موثره ګټه پورته کول
- په ملي او نړيواله کچه له پوهنتونونو سره په علمي چارو د همغږيو او فرصتونو زمينه برابرول
- د پوهنځی د فزيکي او معنوي جوړښت او پرمختګ په موخه د حقيقي او حکمي اشخاصو څخه معنوي او مادي مرستو جلبول

## ۹,۵ د جندر مسايل

د ټولنيز ژوند د پرمختګ او ټولنې هر اړخيزې ودې لپاره نارينه او ښـځينه پرته له کوم تبعيض او امتياز څخه په ګډه د اړوندو چارو په ترسره کولو کې فعاله ونډه اخلي. دا چې افغانستان د څو لسيزو داخلي جګړو او ورانيو له کبله په بېلابېلو برخو کې ويجاړ او وروسته پاتې شوی چې له امله يې د ښځو ونډه د سړيو په پرتله کمه شوېده. لازمه ده چې ښځې هم د سړيو په څېر په ټولو اداري او مسلکي کړنو کې د امکان تر بريده په فعاله توګه ونډه واخلي، څو د بشرـي قوې شـته تشـه ډکه او چارې په معياري شـکل ترسره شي او هم ښـځې له خپلو حقوقو برخمنې شي. پوهنځی د علمي بنسټ په توګه په پلان کې لري، چې د نارينه وو تر څنګ ښځو ته هم د امارت او د لوړو زده کړو وزارت په جواز سره په علمي او اکاډميکو برخو کې ونډه ورکړي، چې پدې برخه کې لاندې کړنې ترسره کوي:

په علمي او تحصيلي پروګرامونو کې د نارينه محصيلينو ترڅنګ د ضرورت په اساس د ښځينه محصيلينو شمېر زياتوالي ته پوره پاملرنه ، البته که د لوړو زده کړو وزارت او په ټوله کې د امارت د رهبری په اساس د ښځو تحصيل ته جواز ورکړي.

د لوړو زده کړو ترلاسه کولو په موخه ښځينه محصيلينو لپاره د ځانګړو صنفونو جوړول

د بشري ځواک د ګمارنې په برخه کې ښځينه کادرونو ته د امکان تر بريده پاملرنه او زمينه برابرول

د نظري زده کړو تر څنګ ښځينه محصيلينو ته د عملي زده کړو پراختيا

## ۱۰,۵ دعمده ستراتيژيکو موخولاسته راوړلو لپاره اټکل شوی پلان

د ســتراتېژيکو موخو لاســته راوړلو لپاره پلانونه او طرحې د وخت او امکاناتو په نظر کې نيولو سره د مديريت يو اســاسي اصــل تشــکيلوي، چې چارې په ټاکل شــويو وختونو کې په اغېزمنه توګه د مثبتو پايلو په لرلو سره ترسره شي. پر همدې اســاس دکمپيوټرســاينس پوهنځی د چارو د ښــه سمون لپاره اړينه بولي چې د ستراستژيکو موخو د ترلاسه کولو لپاره پلانونه ترتيب او لاندې کړنې ترسره کړي.

- دعلمي کادرونو لپاره دلوړوزده کړو زمينه برابرول:

i. د ليسانس استادانولپاره دماستري پروګرام د زمينې برابرولو هڅه (۱۴۰۳ -۱۴۰۷)

- د نويو څانګو ايجاد:

i. Software Engineering (SE) (۱۴۰۳_۱۴۰۷)

ii. Information Technology (IT) (۱۴۰۳_۱۴۰۷)

- د بورسونو لاسته راوړل (۱۴۰۳-۱۴۰۷)
- دڅېړنې معياري کول او زياتول (۱۴۰۳-۱۴۰۷)
- د ښوونيزو ورکشاپونو او ټريننګونو دايرول (۱۴۰۳-۱۴۰۷)
- د نويو علمي او څېړنيزو مجلو او ژورنالونو تأ سيسول (۱۴۰۳_۱۴۰۷)
- علمي نصاب د مارکيټ او بازار له غوښتنو سره عيارول (۱۴۰۳-۱۴۰۷)
- د ځانګړي معياري کتابتون ايجاد (۱۴۰۳_۱۴۰۷)
- دپوهنځی لپاره د نوی ودانې جوړول (۱۴۰۳_۱۴۰۷)
- د علمي تجربو د شريکولو په موخه له نورو پوهنتونونو څخه د استادانو ( Visiting Professors ) رابلل او محصلانوته د Exchange program برابرول (۱۴۰۳_۱۴۰۷)
- د IoT او Cisco مجهز لابراتوار جوړول (۱۴۰۳_۱۴۰۷)
- د نويو کادری استادانو تقرر : تر راتلوونکو پنځو کالونو پورې لس ۱۰ تنه کادري استادانو تقرر (۱۴۰۳-۱۴۰۷)

## ۱۱,۵ زیربیناوې

پوهنتونونه او تحصیلي موسسې تل هڅه کوي چې د علمي او اکاډمیکو پرمختګونوترلاسه کولو په موخه مادي امکانات او د اړتیا وړ پراخه زیربیناوې او تاسیسات ولري. همدارنګه اړینه بریښي چې د راتلونکي لپاره بنسټیزې او زیربېنایي پروژې پلي کړي چې په پراخه کچه د لوړو زده کړو بېلا بیلو پروګرامونو د تطبیق وړتیا ولري. پوهنځی د زېربیناوو د پراختیا په موخه د پلان له مخې په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې چارې ترسره کوي:

- د کمپیوټر ساینس پوهنځی لپاره د نوی ودانیۍ جوړول
- د کنفرانس خوني جوړول
- په پوهنځي پوری مربوط بیل بیل مجهز کمپیوټر لیبونه، دهاردویرمجهزلابراتوار جوړول
- د پوهنځی د زېربیناوو ساتنه او څارنه

## ۱۲,۵ د کلیدی کړنو د شاخصونو په نظر کې نیولو سره د پوهنځی ستراتیژک اهداف او موخې

د کمپیوټرساینس پوهنځی ستراتېژیک پلان جوړونې څخه موخه د لوړو زده کړو د بهیر چټکتیا او ښه والی دی چې په ټولنه کې د شته ناورینونو او ستونزو پای ته رسېدو په برخه کې خپله ونډه واخلي. پوهنځی د ټاکلي ماموریت او معیارونو په پام کې نیولو سره داسې وړ، مسلکي او معیاري کادرونه روزي چې د ټولنې په پرمختګ او د ستونزو په حل کې د خدمت وړاندې کولو جوګه شي. کمپیوټر ساینس پوهنځي پورته ارزښتونو او لیدلوري ته د رسېدو په موخه لاندې کړنې ترسره کوي:

- په دوامداره توګه د وخت د شرایطو او بازار د غوښتنو په پام کې نیولو سره معیاري زده کړې وړاندې کول
- د علمي کادر غړیو لپاره د نورو لوړو زده کړو زمینه برابرول
- د ښو علمي او څېړنیزو پرمختګونو په موخه څېړنیز مرکز درلودل
- په راتلونکو پنځه کلونو کې له ملي او بین المللي اعتبار ورکوونکو ادارو څخه اعتبار ترلاسه کول
- په علمي او اکاډمیکو چارو کې د خپلواکۍ په لرلو سره د سیمې له علمي پروګرامونو سره سالمې سیالۍ ته چمتوالی

## ۱۳,۵ خطرات

د نورو ادارو په څېر علمي پروگرامونه په ټولنه کې د یو لړ خطراتو او گواښوونو سره مخامخ کېږي. که چېرې په پلان کې ورته پوره پاملرنه ونشي، شونې ده، چې د بېلابېلو تهدیدونو او گواښونو له کبله د پلان موثر تطبیق له خطر سره مخامخ شي. پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې خپل ستراتېژیک پلان د تطبیق پر وړاندې د لاندې خطراتو وړاندوینه کوي:

- په پوهنځی کی مجهز کمپیوټر لیب نه شتون
- د هېواد خراب امنیتي وضعیت په پام کې نیولو سره د استادانو او محصلینو نه خوندیتوب
- د عوایدو کموالی
- د خصوصي سکتور د علمي پروگرامونو په پراختیا کې کم رنگه گډون
- خصوصي لوړوزده کړو ته هغه امکانات چې دولتي پوهنتونو ته ورکول کیږي نشتون.

## ۱۴,۵ د چاپیریال اغیزی

د نورو ادارو په څېر علمي پروگرامونه په ټولنه کې د یو لړ داخلي او بهرنیو چاپیریالي اغېزو تر تاثیر لاندې راځي. که چېرې د چاپېریال مثبتې اغېزې له وړاندې وپېژندل شي، د پوهنتون په علمي او فزیکي پرمختګ کې ورځخه مثبه ګټه پورته کېدای شي.که چېرې د چاپېریال منفي اړخ په پام کې ونه نیول شي،شونې ده، د بېلابېلو تهدیدونو او گواښونو له کبله د پلان موثر تطبیق له خطر سره مخامخ کړي. کمپیوټر ساینس پوهنځي به په راتلونکو پنځو کلونو کې د خپل ستراتېژیک پلان تطبیق پر وړاندې د لاندې خطراتو وړاندوینه کوي

## ۱۵,۵ پایله

دغه ستراتېژیک پلان چې د ( ۱۴۰۳ – ۱۴۰۷ ) کال لپاره چمتو شوی دی، د کمپیوټرساینس پوهنځی هڅه کوي چې په کې پر ځای شوی مواد په خپله ټاکلې نېټه عملي کړي. پوهنځی به کوښښ وکړي چې د وردگ لوړو زده کړو مؤسسه، لوړو زده کړو وزارت او نور مرستندویان وهڅوي چې د پوهنځی د فزیکي رغونې او معنوي پیاوړتیا لپاره امکانات چمتو کړي. د دې چارې د ترسره کېدو لپاره د پوهنځی د ځوانانو استادانو کوښښونه پوهنځی ته د خوښۍ زېری او هیله بخښوونکي دي.

# د کمپیوټر ساینس پوهنځي پنځه کلن مالي پلان (۱۴۰۳-۱۴۰۷)

| ارقام په میلیون افغانی | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شمېره | برنامه | اجرأ وخت | | | | | مجموعه | بودجه | | | ملاحظات |
| | | ۱۴۰۳ | ۱۴۰۴ | ۱۴۰۵ | ۱۴۰۶ | ۱۴۰۷ | | عادي | انکشافي | مرستې | |
| | زیر بناء برخه | | ۱۱ | ۲۰ | ۲۷ | ۳۵ | ۹۳ | | | | |
| ۱ | د کمپیوټر ساینس پوهنځي لپاره د نوې ودانۍ جوړول | | ۶ | ۱۰ | ۱۲ | ۱۰ | ۳۸ | | انکشافي | ډونران | |
| ۲ | د IoT او Cisco مجهز لابراتوار جوړول | | ۲ | ۴ | ۷ | ۱۵ | ۲۸ | | انکشافي | ډونران | |
| ۳ | د ځانګړي معیاري کتابتون ایجاد | | ۳ | ۶ | ۸ | ۱۰ | ۲۷ | | انکشافي | ډونران | |
| | کیفیت تضمین او اعتبار اخیستنې برخه | ۴ | ۸ | ۱۲ | ۱۷ | ۲۴ | ٦۵ | | | | |
| ۱ | د لیسانس استادانو لپاره د ماسټرۍ پروګرام د زمینې برابرولو هڅه | ۲ | ۲ | ۵ | ۵ | ٦ | ۲۱ | | انکشافي | | |
| ۲ | د نویو څانګو ایجاد (information technology & software engineering) | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | | | | |
| ۳ | د نویو څانګو او پوهنځیو تجهیز | ۱ | ۲ | ۳ | ۳ | ۴ | ۱۳ | عادي | | | |
| ۴ | د کریډت سیستم پلي کول | | | | ۱ | ۲ | ۳ | عادي | | | |
| ۵ | د لابراتوارونو او ټولګیو تجهیز | ۱ | ۲ | ۲ | ۴ | ۴ | ۱۳ | عادي | | | |
| ٦ | د فساد پر وړاندې مبارزه | | | | | ۱ | ۱ | عادي | | | |
| ۷ | د توامیتونو پراختیا | | | | | ۱ | ۱ | عادی | | | |
| ۸ | د معلوماتي ټیکنالوژۍ پر مټ د ادارو وصل کول | | ۱ | ۱ | ۱ | ۲ | ۵ | عادی | | | |
| ۹ | علمي څېړنه او پلان جوړونه | | | | ۱ | ۱ | ۲ | عادی | | | |
| ۱۰ | علمي نصاب د مارکیټ او بازار له غوښتنو سره عیارول | | ۱ | ۱ | ۱ | ۱ | ۴ | عادی | | | |
| ۱۱ | د علمي تجربو د شریکولو په موخه له نورو پوهنتونونو څخه د استادانو ( Visiting Professors ) رابلل او | | | | ۱ | ۱ | ۲ | عادی | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | محصلانوته د Exchange program برابرول | | | | | | | | | | |
| ۱۲ | علمي نشرات | | | | | ۱ | ۱ | عادي | | | |
| | مدیریت او خدماتو برخه | | ۱ | ۲ | ۳ | ۵ | ۱۱ | | | | |
| ۱ | اداري پرسونل ظرفیت لوړونه | | | ۱ | ۱ | ۲ | ۴ | عادي | | | |
| ۲ | سیستم جوړونه او د فساد پر وړاندې مبارزه | | | | ۱ | ۱ | ۲ | عادي | | | |
| ۳ | د قرطاسیې،محرقاتو، فرنیچر تدارک | | ۱ | ۱ | ۱ | ۲ | ۵ | عادي | | | |
| | معاشاتو برخه | ۱,۳ | ۴,۸ | ۵,۸ | ۷,۸ | ۱۴ | ۳۳,۷ | | | | |
| ۱ | کادري پرسونل | | ۳ | ۳ | ۵ | ۱۱ | ۱۱ | عادي | | | |
| ۲ | اداري پرسونل | ۱ | ۱ | ۲ | ۲ | ۲ | ۸ | عادي | | | |
| ۳ | خدماتي پرسونل | ۰,۳ | ۰,۳ | ۰,۸ | ۰,۸ | ۱ | ۳,۲ | عادي | | | |
| عمومي مجموعه | | | | | | | ۲۰۲,۷ | | | | |